# د اقتصادي پرمختیا سیاستونه

# Economic Development Policies

وړاندې کوونکی: محمد ابراهیم عظیمي

# د اقتصادي پرمختيا پيژندنه

اقتصادي پرمختيا پيژندنه او نړيوال ليد.

اقتصادي پرمختيا کيدای شي دحقيقي ازادۍ يو پراخيدونکې پروسې په ډول وليدل شي چې خلک ورڅخه خوند اخلي

Amartya sen ,NOBLE Laureate Economic

# د اقتصادي پرمختيا پيژندنه

اقتصادي پرمختيا پيژندنه او نړيوال ليد.

زمونږ لرليد او مسوليت ده چې دپرمختيا دثابتولو په خاطر فقرپاى ته ورسوه دكوموشيانو په واسطه چې رامينځته شوى ده .

Development Agenda 2013

# د اقتصادي پرمختیا پیژندنه

اقتصادي پرمختیا پیژندنه او نړیوال لید.
دفقر دپای ته رسولو لپاره ښې نظرې منسجمي کړي او راتلونکو نسلونو لپاره برابر کړي دي
١ : کامیابه نړۍ هغه کیدلاشي چرته چې دهیواد ټولې کورنۍ دکار کولو لپاره لاس رسی ولري .
٢ : کامیابه نړۍ هغه کیدلاشي چې هر څوک دغذا لپاره کافي اندازه څه ولري .
٣ :کامیابه نړۍ هغه کیدلاشي چرته چې ټوله ټولنه دفقر څخه خالي وي .
Jim Yong Kim ,world bank president 2013

# د اقتصادي پرمختيا پيژندنه

اقتصادي پرمختيا پيژندنه او نړيوال ليد.

پرمختيا : هغه پروسه ده چې دټولو د خلکو په ژوند او وړتياوو کې لوړوالی رامنځته کوي دژوند سطحه لوړوي ،په ځان يې متکي کيدل او دازادۍ څخه برخمن کيدل دي.

# د اقتصادي پرمختيا پيژندنه

اقتصادي پرمختيا پيژندنه او نړيوال ليد.

داقتصادي پرمختيا لپاره بيلا بيلا تعريفونه شته له هغوی څخه يو هم قناعت بښونکی نده نو ځکه اقتصاد پوهانو بيلا بيل تعريفونه کړي .

(1) شومپټر : اقتصادي وده په ساکن حالات کې د لنډه مودې بدلون ده چې هغه پخوانی تعادلي حالات له مينځه وړي .

پرمختيا : داوږدې مودې دوامداره او تدريجي بدلون ده چې دوګړو په سيماوو کې دعمومي زياتوالي په اساس رامينځته کيږي.

# د اقتصادي پرمختيا پيژندنه

اقتصادي پرمختيا پيژندنه.

اقتصادي وده پرته له اقتصادي پرمختيا ممکنه ده خو اقتصاد پرمختيا پرته له اقتصادي ودې نامِمکنه ده .

اقتصادي پرمختيا داقتصادي ودې په نسبت پراخه معنا لري .

اقتصادي وده کمي شاخصونو ښودونکې ده (ملي عايد،سړي سرکلنۍ ګټه)

اقتصادي پرمختيا بيا کيفي او کيمي دواړه اړخه په نظر کې نيسي (ملي عايد حجم ،سړي سرکلنۍ ګټه ،دکور وسايل او دژوند سهولتونه )

# سیاست انکشاف

اقتصادي پرمختیا پیژندنه.

(۲) براون اولیوس بیا وایي چې اقتصادي وده او پرمختیا ترمینځ کوم توپیر نشته.

(۳) مایر او بالدین وایي چې اقتصادي پرمختیا یو پروسه ده چې دهغې په ترځ کې دټولنې حقیقي عاید په یوه اوږده موده کې زیاتوالی کوی .

# دسیاست انکشاف پیژندنه

. اقتصادي پرمختیا پالیسی

د هغه فعالیت څخه عبارت ده  چې د یوې ټولنې لپاره د اقتصادي هوساینې او د ژوند انه د کیفیت ښه کولو لپاره کار کوي .

لکه داستخدام سطحې لوړولو سره د خلکو په عاید کې لوړوالی راځي چې دې سره مالیات لوړیږي  د مالیاتو دلوړوالي په اساس اقتصادي ودې ته لاره هواریږي او چې دې سره اقتصادي هوساینه رامنځته کیږي((IEDC 2016

اقتصادي پالیسۍ مهمې موخې دي

(الف) چټکه اقتصادي وده (دپانګې نړیوال جریان پراختیا،تکنالوژي نویوالی)

(ب) مکمل استخدام

(ج) بشري پرمختګ او ښه کاري فرصتونو،

(د)  نرخونو ثبات او د تبادلې نرخ ، (مالي او پولي ساستونو په اساس )

(و) د دورانونو د بدلون مخنیوی .

# دسیاست انکشاف پیژندنه (ادامه)

د دورانونو د بدلون مخنیوی .

(پرمختیا مرحله عواید ،پانګه اچونه او دتولید دحجم وده ده)

تقاضا زیاتیږي ،ګټه زیاتیږي ،پانګه اچونه او استخدام لوړیږي ،تولید زیاتیږي

(بحران مرحله لمړی مصارف زیاتیږي ،او بیا قیمتونه لوړیږي ځکه دتولید عوامل په لوړ مصرف کارول کیږي )

ګټه ،تولید،پانګه اچونه،استخدام کچه ټیټه

(تنزیل مرحله اقتصادي فعالیتونه کم وي چې ورسره په ملي عاید کې کموالی ،استخدام کې اوتولید کې کموالی راځي ،قیمتونه اوګټه کمه ،موثره تقاضا کمه )

(دترمیم مرحله سوداګرو سره ذخایر خلاص شی

تقاضا زیاتیږي ،قیمتونه لوړیدو شروع کوي ،ګټه زیاتوالی کوي ،پانګه اچونه زیاتیږي ،استخدام زیاتیږي

# دسیاست انکشاف پیژندنه

. اقتصادي پرمختیا پالیسی

اقتصادي پرمختیا د لوړې GDP په اساس د اقتصادي هوساینې د ښه والی معنی لري اقتصادي هوساینې سره لاندې برخو کې زیاتوالی رامنځته کیږي .

- ✓ د تعلیم دکچې لوړوالی
- ✓ ښه زیربناوې
- ✓ د فقر کمول
- ✓ روغتیا یي معیارونه برابر ول

# د اقتصادي پرمختيا د سياستونو موخې

## (١) د غربت کمول

د افغانستان په ګڼون ډيرى پرمختيا يي هيوادونه د عمومي او مطلق(دژوند اساسي ضرورتونو ته لاس رسى ونلري) فقر سره مخ دي. بې وزلي نه يوازې په خپله بده ده، بلکې ډېر اقتصادي او ټولنيز جرمونه هم رامنځته کوي. د فقر کمول د اقتصادي پرمختيا يو له مهمو موخو څخه دى.

# د اقتصادي پرمختيا د سياستونو موخې (ادامه)

(۲)دداخلي او بهرنيو پورونو د بوج کمول

✓داچې پرمختيايي هيوادنه او بې وزله هيوادونه د پوره اومرستې ترلاسه کونکو هيوادونو څخه دي نو

✓اقتصادي پرمختيا له يو ملت سره مرسته کوي چې د ځان بسياينې پاليسي غوره کړي.

✓د اقتصادي پرمختيا د سياستونو بله موخه د پورونو د بار کمول دي

.

# د اقتصادي پرمختیا د سیاستونو موخې (ادامه)

## (۳) د سړي سر عاید زیاتول

- ✓ اقتصادي پرمختیا د بې وزلو هیوادونو د سړي سر عاید د زیاتوالي لامل کیږي.
- ✓ او د PCIزیاتوالی د ډیرې سپما او ډیرې پانګونې لامل کیږي.
- ✓ د سړي سر لوړ عاید د د یو هیواد د پرمختګ او سوکالۍ نښه ده.
- ✓د افغانستان د سړي سر عاید ۵۷۵ ډالره اټکل شوی دی.

# د اقتصادي پرمختیا د سیاستونو موخې (ادامه)

## (۴) د کرنې سکتور پراختیا

ورروسته پاتې کرنیز سکتور د افغانستان د اقتصاد تر ټولو لوی سکتور دی.

- ✓ په افغانستان کې د تولید د دودیزو وسایلو د کارولو له امله د تولید کیفیت او کمیت خورا ټیټ دی.
- ✓ په یو هیواد کې اقتصادي پرمختیا د وروسته پاتې کرنیز سکتور د پراختیا لپاره اړین دی.
- ✓ د افغانستان په ناخالص کورني تولید کې د کرنې سکتور ۳۵ سلنه ونډه لري

# سیاست انکشاف اهداف

(۵) د صنعت سکتور پراختیا

صنعتي سکتور زموږ د اقتصاد دوهم لوی سکتور دی.

په افغانستان کې اوسمهال د صنعتي سکتور پرمختګ د قناعت وړ نه دی.

اقتصادي پراختیا هم د صنعت سکتور له پراختیا سره مرسته کوي.

.

# سیاست انکشاف اهداف

(۶) د بیکارۍ کمول

د اقتصادي پرمختیا سیاست یو بل هدف د بیکارۍ کمول دي.

- ✓ بې کاره نفوس دیو هیواد په اقتصاد اضافي بار دی.
- ✓ اقتصادي پرمختیا د کار نوي فرصتونه رامنځته کوي.

لکه څرنګه چې په چټکۍ سره د نفوس زیاتوالی د بیکارۍ ستونزه رامینځته کوي نود اقتصادي پراختیا له لارې دبیکارۍ ستونزه حل کیدی شي.

- ✓ په افغانستان کې د بیکارۍ کچه په (۱۴۰۱) کې ۳۵ سلنه ده

.

# د اقتصادي پرمختیا د سیاستونو موخې (ادامه)

(۷) د تولید د کچې لوړول

داچې په افغانستان کې د کرنې او صنعت سکتور د تولید کچه ډېره ټیټه ده.نو د اقتصادي پرمختیا د سیاستونو بل هدف د عصري ټیکنالوجي په کارولو سره د تولید کچه لوړول دي.

# د اقتصادي پرمختيا د سياستونو موخې (ادامه)

(۸) دتادياتو بلانس برابرول

په وروسته پاتې هيوادونو کې دتادياتو بلانس معمولاً د کسر سره مخامخ وي نو افغانستان هم يو دوروسته پاتې هيوادونو څخه ده چې د تادياتو بيلانس يې له کسر سره مخ دی. چې دا د وارداتوزياتوالی او دصادراتودکموالي له امله دی. نو د تادياتو بلانس د توازن لپاره اقتصادي پراختيا اړينه ده. اقتصادي پراختيا ده چې د يو هيواد په صادراتو کې زياتوالی او وارداتوکې کموالی راولي.

# د اقتصادي پرمختیا د سیاستونو موخې (ادامه)

(۹) د پانګې د کمښت مخنیوی

داچې پرمختیا یې هیوادونه دپانګې د کمښت سره مخ دي دغه ستونزه داقتصادي پرمختیا سیاست په اساس له منځه تللی شي

.

ځکه اقتصادي پرمختیا سیاستونو په پلي کولو سره د یو هیواد د وګړو په عاید کې زیاتوالی راځي چې دې سره به دوګړو په سپما ګانو کې ډیروالی راشي چې دا بیا دپانګې اچونې لامل ګرځي نو اقتصادي پرمختګ د پانګې د کمښت په لرې کولو کې مرسته کوي.

افغانستان هم یو دهغې هیوادونو څخه چې د پانګې د کمښت له ستونزې سره مخ دی.

# د اقتصادي پرمختيا د سياستونو موخې (ادامه)

(۱۰) دمنابعو په نا سمه توګه کارول

اقتصادي پرمختيا  يو ملت ته دا توان ورکوي چې له شته منابعو څخه په سمه توګه ګټه پورته کړي. مخ پر ودې هيوادونه ډيری طبيعي زيرمې لري چې د ټيکنالوژۍ د خراب حالت له امله په سمه توګه ندي کارول شوي، يا لږ کارول شوي او يا هم بلکل ندي کارول شوي .

# د اقتصادي پرمختيا د سياستونو موخې (ادامه)

(۱۱) د بازار نيمګړتيا لرې کول

په پرمختيا يې  هيوادونو کې د بازار ځواکونه (عرضه اوتقاضا)په آزاده توګه عمل نه کوي.

انحصارکوونکي په اقتصاد بشپړ کنټرول لري. دوى د توکو مصنوعي کمښت رامينځته کوي ( دمولدينو مداخله ) ترڅو لوړ نرخ سره خپل اجناس او خدمات په خرڅلاو ورسوي.

نو د بازار د نيمګړتيا ستونزې د اقتصادي پرمختيا پاليسى له لارې لرې کيدى شي.

# د اقتصادي پرمختیا د سیاستونو موخې (ادامه)


(۱۲) د فقر ناوړه دایره لمینځه وړل

د راګنار نرکسي  په وینا، د فقر ناوړه دایره د مخ پر ودې هیوادونو د وروسته پاتې کیدو لوی لامل دی.


نو اقتصادي پرمختیا کولای شي چې دفقر ناوړه  دایره د لمینځه وړلو لامل شي.

د بې وزلۍ د ناوړه کړۍ له امله ملي عاید، ملي سپما او ملي پانګه ټول خورا ټیټ دي..

# د اقتصادي پرمختیا د سیاستونو موخې (ادامه)
## دتقاضا داړخه دفقر دایره



# د اقتصادي پرمختيا د سياستونو موخې (ادامه)
# دعرضې له اړخه دفقر دايره



# د اقتصادي پرمختيا د سياستونو موخې (ادامه)

(۱۳) انفلاسيون کنټرولول

په پرمختيا يي هيوادونو کې د انفلاسيون لوړ نرخ هم ډيرې ستونزې رامينځته کوي. دا ستونزې په لاندې ډول دي

په لګښت کې زياتوالی

دعوايدو ناانډوله ويش

په سپما کې کموالی

صادراتو کموالی

دتوليد په ساحه کې دپانګې اچونې کموالی

دسود نرخ لوړوالی

د زياتيدونکي انفلاسيون د کنټرول لپاره اقتصادي پرمختيا سياست ته اړتيا ده. چې دلاندې سياستون په اساس له مينځه تللی شي

پولي سياستونه(دپيسوپه عرضه کنټرول رامينځته کول )

مالي سياستونه(دعوايدو دجمعوارئ اولګښتونو په اړه ددولت کړنلارې څخه عبارت ده )

# د اقتصادي پرمختيا سياستونو ډيموګرافيکې موخې

(1) د ژوندانه معيار ښه کول

دا چې په پرمختيايې هيوادونو کې د نفوسو وده په چټکۍ سره زياتوالى کوي. اوله بلې خوا په پرمختيايي هيوادونو کې دخلکو لپاره دلمړنيو اړتياو زمينه هم نده برابره شوې .

افغانستان هم يو دهغه هيوادونو څخه ده چې د وګړو د ژوند کچه خورا ټيټه د نو د اقتصادي پرمختيا موخه هم د وګړو د ژوند د کچې لوړول دي.

# د اقتصادي پرمختیا سیاستونو ډیموګرافیکې موخې (ادامه)

(۲) د پاک چاپیریال رامینځته کول

په بې وزلو هیوادونو کې د صنعتي کیدو له امله د هوا او اوبو ککړتیا رامینځته کیږي، چې دا په خپل وار د نارغیو درامینځته کیدو سبب ګرځي

د اقتصادي پرمختیا په اساس د روغتیایي درملو فابریکي جوړې شي چې دې سره په د ککړتیا کچه کمه او د کار موثریت لوړ شي.

# د اقتصادي پرمختيا سياستونو ډيموګرافيکې موخې (ادامه)

(۳) د ښه صحت ترلاسه کول

څرنګه چې مخ پر ودې هېوادونه لږ روغتيايي اسانتياوې لري.

نواقتصادي پرمختګ ددې لامل کيږي چې د مړينې کچه راټيټه او د ژوندانه په کچه کې لوړوالی رامينځته کړي.

(۴) دمغزونو دفرار مخنيوی

. د اقتصادي پرمختګ موخه دا ده چې د خلکو لپاره د کار زمينه مساعده کړي تر څو دمغزونو فرار مخنيوی وشي.

# د اقتصادي پرمختيا سياستونو ډيموګرافيکې موخې(ادامه)

(۵) د زيربنا وه پراختيا

د اقتصادي پراختيا يوه بله موخه د زيربنايي تاسيساتو پراختيا ده. لکه د ښوونې او روزنې سيستم، غوره روغتيايي اسانتياوې، د ترانسپورت ، مخابراتو چټکې وسيلې او د بهرنی پانګونې جذب.

# د اقتصادي پرمختيا سياستونو کلتوري اوسياسي موخې

(1) د لوړو زده کړو ترلاسه کول

د اقتصادي پرمختيا يو کلتوري هدف د هيواد دننه وګړو ته د لوړو زده کړوزمينه برابرول دي.

په افغانستان کې د سواد کچه خورا ټيټه ده. د سواد د کچې ټيټوالی د خلکو د وروسته پاتې والي او ناپوهۍ لامل ګرځي

# د اقتصادي پرمختيا سياستونو کلتوري اوسياسي موخې (ادامه)

(۲) د غير توليدي لګښتونو کنټرول

د اقتصادي پراختيا موخه د غير توليدي لګښتونو کنټرول دی. پرمختيايي هيوادونو کې حکومت بايد د غير توليدي لګښتونو لپاره په لوړه کچه پيسې تخصيص نه کړي.

(۳) سياسي ثبات ساتل

د اقتصادي پرمختګ يو هدف د سياسي ثبات ساتل دي په افغانستان کې سياسي وضعيت د قناعت وړ نه دی. ځکه په حکومت او پاليسيو کې بې ثباتي ده.

# د اقتصادي پرمختيا سياستونو کلتوري اوسياسي موخې (ادامه)

(۴) فيوډاليزم لمنځه وړل

د اقتصادي پرمختګ يوه بله موخه د فيوډاليزم د ناوړه رول لمينځه وړل دي.

جاګيرداران د غريبو کرايه دارانو څخه ناوړه ګټه پورته کوي.

(۵) په توليدي بڼه د فنډ کارول

د اقتصادي پرمختګ يوه بله موخه د دولت له بوديجې څخه په توليدي لارو ګټه اخيستل دي. د فنډونو کارول بايد خلکو ته ډيرې اسانتياوې برابرې کړي. دا به ټولنيزه هوساينې ته وده ورکړي.

# د اقتصادي پرمختيا سياستونو كلتوري اوسياسي موخې (ادامه)

(۶) دپاليسيو ثبات

د اقتصادي پرمختګ بله موخه په مختلفو پاليسيو كې د ثبات ساتل دي .

د اقتصادي ثبات لپاره په مالي او پولي سياستونو كې ثبات اړين دی.

# د اقتصادی پرمختیا سیاستونو تکنالوجیکي او متفرقه موخې

(1) د اتکاء کمول

مخ پر ودې هیوادونه دتل لپآره په بډایه هیوادونو تکیه کوي .

ځکه بې وزله هیوادونه له دوی څخه پورونه او مرستې ترلاسه کوي. نو شتمن هیوادونه د خپلو ګټو لپاره د مخ پر ودې هیوادونو په پالیسیو کې مستقیمه لاسوهنه کوي.

مخ پر ودې هیوادونه ځکه خپلې پالیسیانې نشي جوړولی ځکه دوې دپرمختللو هیوادون څخه پورونه تر لاسه کوي.

داقتصادي پرمختیا پالیسۍ یو هدف داده چې خپلې پالیسیانې جوړې کړي او پرمختللو هیوادونو باندې اتکاء کمه شي .

# د اقتصادی پرمختیا سیاستونو تکنالوجیکي او متفرقه موخې (ادامه)

(۲) دمنابعو عادلانه ویش.

په افغانستان کې د منابعو ویش په سمه توګه نده ترسره شوی . دغه منابع یواځې دځو کسانو په لاس کې دي او همغه خلک د دې منابعو څخه استفاده کوي .

داقتصادي پرمختیا پالیسۍ هدف داده چې منابع دخلکو ترمینځ په عادلانه ډول وویشل شي .لکه

سرمایداري نظام وایي (څومره کار کولایشي همغومره منابع ترلاسه کولایشي )

سوسیالیستانوایي( چې کار دخپلې توانای په اساس او منابع به دخپل ضرورته په اساس اخلې)

اسلام وایي (دخپل کار په مقابل کې په همغه اندازه منابع اخله خو اسلامي حدودات په نظر کې ونیسه)

# د اقتصادی پرمختیا سیاستونو تکنالوجیکي او متفرقه موخې (ادامه)

(۳) مهارت ته وده ورکول

اقتصادي پرمختیا د کارګر مهارت او روزنه ښه کوي. دا د کار موثریت زیاتوي چې د دې په اساس دتولیداتو کیفیت او کمیت دښه والي سبب ګرځي .

(۴) په ځان متکي کیدل

د ځان بسیاینې پالیسي غوره کول د اقتصادي پرمختیا له امله ممکن دي. اقتصادي پرمختیا پر نورو هېوادونو تکیه او د هغوی لاسوهنې کموي.

.

# سیاست انکشاف تکنالوجیکي او متفرقه موخې (ادامه)

(۴) د پیسو بازار ته وده ورکول

د اقتصادي پرمختګ بل انګیزه د پیسو بازار ته وده ورکول دي. د پیسو پرمختللی بازار د یو هیواد لپاره اړین دی.

دا به د خلکو لپاره ټولنیز هوساینې رامینځته کړي .

لکه بانکي سیستم منظم کول

.

# پالیسي جوړولو پروسه

. د پالیسی پروسه په لاندې برخو ویشل کیږي.

(۱) د ستونزو رامینځته کول(کله چې یوه پالیسي جوړیږي نو یو ستونزه باید موجوده وي چې دپالیسی جوړونوکو پام ورته راواړول شي )لکه دبیکاری ستونزه

(۲) د اجندا ترتیب (هغه مسایل ولیکل شي چې دکومو په اساس پالیسي جوړیږي)

(۳) د پالیسی غور کول ( ستونزو د حل لپاره کوم ډول پالیسي جوړه شي)


(۴) پریکړه کول(خاص موضوعاتو شاملول په پالیسو کې څکه ټول موضوعات نشي شامییلیدی)

(۵) پلي کول(د پالیسی پلي کول اکثرا د نورو ادارو لخوا ترسره کیږي پرته لدې چې هغه یې جوړ کړي او تصویب کړي)

(۶) ارزونه (پدې معنی ده چې دا معلومه کړي چې پالیسي څومره عملي شوې ده او نتیجه څنګه ده )

(اردن او اډیل، 2012)

# پالسیو جوړولو سایکل



# داقتصادي پرمختيا پاليسيانې

اقتصادي ثبات پاليسي

خارجي کومکونه پاليسي

صنعت پرمختګ پاليسي

عامه خدماتو کې پانګه اچونه پاليسي

په موثره توګه دټېکسونو راټولول پاليسي

خصوصي سازي او په هغې مقررات کمول پاليسي

# داقتصادي پرمختيا پاليسياني

## اقتصادي ثبات پاليسي

- ✓ اقتصادي ثبات په اساس ټيټ انفلاسيون رامينځته کيږي او ټيټ انفلاسيون د بهرني پانګ اچونې سبب ګرځي.
- ✓ لوړ انفلاسيون په اساس خارجي پانګوال پانګه اچونه نه کوي

مثال په توګه :پولي پاليسي په کارولو سره د انفلاسيون کنټرول لپاره مرکزي بانک ته خپلواکي ورکړل شوې

- ✓ مالي پاليسي – د بوديجې کسر څخه مخنيوی

# داقتصادي پرمختيا پالیسیانې

## خارجي كومكونه رول پاليسي

- ✓ خارجي كومكونه كولی شي د اقتصادي بحران په له مینځه وړلو کې رول ولوبوي.
- ✓ خارجي كومكونه كولی شي ترڅوپه لنډمهاله کې مالي یا د تادیاتو توازن ستونزې حل کړي.
- ✓ خارجي كومكونه د غير متوقع بحران سره د مبارزې لپاره حياتي کیدی شي.
- ✓ بهرنۍ مرستې كولی شي پانګې اچونې په ساحه کې مرسته وکړي کوم چې اقتصادي پرمختګ ته وده ورکوي. په هرصورت، دا د بهرنیو مرستو په ډول پورې اړه لري

# داقتصادي پرمختيا پاليسياني

د کرنې سکتور پرته په نورو برخو کې پانګونې پاليسي

د پرمختيايي هيوادنو د اقتصادي پرمختيا په وړاندې يو خنډ دا دی چې د دوي نسبي مزيت يواځې د لومړنيو محصولاتو په توليد کې دی

ولې په دې برخه کې .

- ✓ د قيمتونو بې ثباتي
- ✓ د عايد پر بنسټ د تقاضا کم ارتجاعيت
- ✓ د محصول محدوده اندازه

د اقتصادي پرمختيا پروسه ځنډنۍ کړې ده. له همدې امله په پرمختيايي هيوادونو کې د کرنې څخه پرته په نورو بيلابيلو سکتورونو کې پانګونې ته اړتيا پيښيږي.

# اقتصادي پرمختيا پالیسیانې

عامه خدماتو کې پانګه اچونه پالیسي

داقتصادي پرمختيا لپاره پکار ده چې دولت په عامه سکتورونو کې پانګه اچونه وکړي لکه تعليم برخه ،صحت برخه ،او ټرانسپورټ په برخه کې داهغه سکتورونه دي چې پدې برخوکې خصوصي سکتور نشي کولای چې پانګه اچونه وکړي . د يو هیواد پرمختيا بدون ددې سکتورو نو څخه ناممکنه ده او همدارنګه بدون د ذدکړې او روزنې څخه دصنعت سکتور هم وده نشي کولای.

# اقتصادي پرمختیا پالیسیانې

په موثره توګه د ټکسونو راټولول پالیسي

د اقتصادي پرمختیا په وړاندې یو خنډ د مالیې د راټولولو لپاره د اغیزمن جوړښت نه شتون دی. که دولت د کافي مالیې د راټولولو توان ونه لري، نو د عامه مصارفو لپاره به دولت کافي سرچینې په خپل اختیار کې ونه لري. نو په پرمختیایي هیوادونو کې د اقتصادي پرمختیا لپاره دا اړینه ده چې د مالیاتو راټولولو لپاره یو مؤثر سیستم رامنځته کړي

# اقتصادي پرمختیا پالیسیانې

خصوصي سازي او په هغې مقررات کمول پالیسي

د چین د چټک اقتصادي پرمختګ یو مهم اړخ له کمونیستي اقتصاد څخه مخلوط اقتصاد ته د تګ پریکړه وه. ډیری دولتي صنعتونه خصوصي شوي. په دې سره شرکتونو ته د ډیرې ګټې د ترلاسه کولو فرصت په لاس ورځي.

د خصوصي کولو احتمالي ستونزه دا ده چې دا کولی شي په ټولنه کې نابرابرۍ لاپسې زیاتې کړي. په روسیه کې، خصوصي کولو لږ شمیر خلکو ته دا توان ورکړ چې په ټیټ لګښت د کلیدي صنعتونو کنټرول ترلاسه کړي. په دې سره د هیواد سرچینې د لږ شمیر خورا بډایه اشخاصو ملکیت کیږي، او د ټولنې بې وزلو غړو ته ډیره کمه برخه رسیږي.

# دنفوسو پالیسي

دا پالیسي یو هیواد د دې لپاره جوړوي ترڅو خپل نفوس داسې کچې ته ورسوي چې د هغې لپاره غوره وي. که څه هم موږ ډیری وخت د داسې پالیسیو په اړه فکر کوو چې د نفوس د زیاتوالي نه د کمولو لپاره وي،

د نفوسو پالیسي د هغه اقداماتو یوه ټولګه ده چې د یو دولت لخوا د نفوسو د بدلون په لاره کې د بدلون لپاره ترې کار اخیستل کیږي، یا د لویو کورنیو هڅولو یا مهاجرت له لارې د اندازې زیاتولو لپاره، یا د زیږون محدودیت هڅولو سره د دې کمولو لپاره.

# دنفوسو پالیسي

دنفوسودکنټرول په پالیسی کې لاندې فکتورونه په نظر کې نیول کیږي

(۱)د امیندواری مخنیوي کول

(۲)د کورنی پلان جوړونې په اړه پوهه ترلاسه کول

(۳)د یو هیواد نورو سیمو ته مهاجرت هڅول

(۴)سقط ته د لاسرسي زیاتوالی.

(۵)د مهاجرت له لارې هیواد ته د تلونکو خلکو شمیر کمول

(۶)د ماشومانو وژنه (په قصدي توګه د ماشومانو وژنه، په ځانګړې توګه د بنځو)

# دنفوسو پالیسي

ښايي د نفوسو د کنټرول د پالیسۍ تر ټولو مشهوره بېلګه د چین د یو ماشوم پالیسي وي.

په دې تګلارې کې چین هڅه کوي چې د کورنۍ اندازه محدوده کړي تر څو د نفوس زیاتوالی کم کړي. د یو ماشوم پالیسي د چین حکومت لخوا د نفوس د کنټرول د یوې طریقې په توګه پلي کیږي. د یو ماشوم پالیسي په 1979 کې له حده ډیر زیاتیدونکی نفوس د زیاتوالي په ځواب کې معرفي شوه، او امر یې وکړ چې د چین جوړې یوازې یو ماشوم ولري. په هرصورت، نور هیوادونه، لکه سینګاپور، ځینې وختونه هڅه کړې چې د مالیاتو هڅونې وړاندیز وکړي ترڅو خلک وهڅوي چې ډیر ماشومان ولري

# دنفوسو پالیسي

چین یو سوسیالستي هیواد دی. دا پدې مانا ده چې قوانین معمولا د فرد لپاره نه بلکه د ټول ملت د ښېګڼې لپاره جوړیږي.

چین په دې باور دی چې د نفوسو د کنټرول پالیسي د دې لپاره مهمې دي چې په ټول هېواد کې د ژوند معیارونه ښه شي

په 1979 کې د نفوسو د کنترول په اړه د نړۍ په کچه تر ټولو سخته پالیسي ده . په دې پالیسي کې له هرې جوړې څخه غوښتنه کیږي چې ژمنه وکړي چې یوازې او یوازې یو ماشوم ولري.

# دسرغړوني پایله

- ✓ رسمي اقدامات يې جريمه کول دي خو ځني وخت له دې هم سخت ګامونه اخستل کیدای شي.
- ✓ ځینې وختونه د ماشوم والدين  له خپلو دندو څخه ګوښه کیږي.
- ✓ هغه کسان چې دوهم ماشوم لري دوی نشي کولی ثبت کړي او له همدې امله دوی په قانوني توګه شتون نلري.

# دچین او هند نفوس

چین او هند په ګډه د نړۍ شاوخوا ۳۷ سلنه نفوس لري

په 2006 کې د چین نفوس = 1,451 ملیارد

د هند نفوس = 1,612 میلیارده

په چین کې د زیږون کچه دوه لسیزې مخکې کمه شوې د هند

د زیږون کچه په دې وروستیو کې په کمیدو پیل کوي

دواړو هېوادونو د حکومت له خوا د نفوسو د کنټرول د

تدبیرونو له لارې د زرغونتیا کچه راټیټه کړې، خو د چین

تګلاره په دې وروستیو کې ډېره شوې ده

# ادامه

ایا افغانستان ډیر نفوس لري؟

دا په افغانستان کې د نفوس له زیاتوالي سره تړاو لري ځکه چې افغانستان په نړۍ کې د زیږون تر ټولو لوړه کچه لري. دا په او سط ډول د هره ښځې شاوخوا 6 یا 7 ماشومان دي. ډیری خلک د زیږون کنټرول تخنیکونو څخه خبر دي، مګر د مذهبي دلیلونو لپاره یې نه کارول غوره کوي

# د نفوسو د پالیسیو ډولونه

**Explicit vs. implicit policies**

دنفوسو دکنټرول ښکاره اوپټې پالیسیانې

(1) ښکاره پالیسي.

(الف)د کورنۍ لپاره پلان ترتیبول

(ب)د هر اضافي ماشوم لپاره د مالیاتو زیاتول

(ج)د کډوالۍ محدودیت مهاجرتونو بندیدل داخل ته

(د)د واده لپاره لوړعمر ټاکل

(۲) پټې پالیسي

(الف) اجباري ثانوي زده کړې

(ب)په ماشومانو د کار محدود یت

(ج) د کورونوپه اندازه محدودویت

(د) د ښځو موقف لوړول (کله چې دښځو موقف لوړ شي بیا ډیر ماشومانو ته زړه نه ښه کوي)

(ی) د زوړ عمرخاوندانو داوسیدو ځای برابر ول (کله چې دوئ پوه شي چې په زړښت کې ورته داوسیدو زمینه برابر ده نو بیا دډیرو ماشومانو کوشش نه کوي )

# د نفوسو د پالیسیو مشترک عناصر

د نفوسو د پالیسی عناصر:

مهاجرت : (دا دوډوله مهاجرتونه دي نړیوال چې دسرحدونو نه تیرېږي او داخلي مهاجرتونه چې دیوسیمي څخه بلې سیمي ته انتقالیږي )

مړینه :د مړینې په اړه پالیسي یوازې د مړینې د کچې کمولو هدف نه لري، بلکې د خلکو د روغتیا وضعیت د ښه کولو لپاره اقدامات هم شامل دي

زیږون :دوه جلا طریقې –

- ✓ په هغه هیوادونو کې چې د زیږون کچه ټیټه ده هغه هیوادونه د نفوسو د ودې لپاره هڅه کوي .
- ✓ بر عکس د لوړ زیږون لرونکي هیوادون د نفوس د ودې د مخنیوي لپاره هڅه کو ي.

# د ښوونې او روزنې پالیسي

د ښوونې او روزنې پالیسي:

ښوونیز او روزنې پالیسي  په تعلیمي ډګر کې د حکومتونو لخوا جوړیږي چې تعلیمي نظام اداره کوي ترڅو په یو  هیواد کې تعلیمي نظام پرمختګ وکړي . د ښوونې او روزنې په پالیسۍ کې چټکتیا یوه لویه پانګه اچونه ده

مخ پر ودې هیوادونه باید د سواد د کچې د لوړولو لپاره دلوړ عمر لرونکو لپاره  هم د زده کړې په نوم پروګرامونه چمتو کړي. د پوهنتونونو نصاب باید عصري وي چې تر څو زده کونکي چمتو کړي چې ملي او بین المللي مسایل په اسانۍ سره تحلیل کړي او د دوی تحلیلي مهارتونو ته وده ورکړي.

د بودیجې ډیره برخه باید د تعلیمي سکتور دلوړولو لپاره ځانګړې شي

# د چاپيريال ساتنې پاليسي

د چاپيريال ساتنې پاليسي

د چاپيريال ساتنې په هکله د قوانينو، مقرراتو، او د پاليسۍ نورو ميکانيزمونو ته د يوې ادارې ژمنې ته اشاره کوي.

د هيواد چاپيريال بايد پاک وساتل شي. د دولتونو اصلي مسؤليتونه د چاپيريال د ککړتيا څخه ساتنه او د کار ځواک لپاره مناسب چاپيريال چمتو کول دي.

پاک چاپيريال ټولنيز هوساينه منځ ته راوړي، خلک سالم ژوند کوي.

د کاري سکتور لپاره پاک چاپيريال اړين دی.

# نفوسو پالیسی پروسه

# ؟

# کورنی وظیفه

استخدام پالیسي

؟

کورنۍ وظیفه

# اقتصادي پرمختیا دتطبیق پالیسي

ډیری اقتصاد پوهان مختلف نظریات وړاندې کړي ،
هراقتصاد پوه خپل نظریات داقتصادي پرمختیا او انسان
ي هوساینې لپاره وړاندې کړي ترڅو ددوې دنظریاتو پر
بنا یوتولنه پرمختللې او اقتصادي هوساینه رامینځته شي.
په دې فصل کې د پرمختیا مختلف نظریات مطالعه کړو.

# دقوي حرکت تیوري (Big push theory)

- 
- دانظر (دوزنستین روډن) په ۱۹٤۳ کال کې وړاندې کړی .
- ددې نظریې دوړاندې کولو څخه مخکې نوموړي عالم د پرمختیایي هېوادونو اقتصاد ارزیابي کړی چه ددې هیوادونو اقتصاد اکثراً ساکن حالت لري په هغې کې د پس انداز ، پانګه اچونې او د ملي عاید سطح ډېره ټیټه ده او داسې اقتصاد ته ترقي ورکول او د وروسته پاتې والي څخه نجات ورکول اسان کار نه دی په پرمختیایي هیوادونو کې اقتصادي پرمختګ یوه ډېره پیچلې موضوع ده ځکه اقتصادي پرمختګ د ملي عاید دکموونکو او زیاتوونکو عواملو ترمنځ د کشمکش او مجادلې په نتیجه کې صورت نیسي څرنګه چه دا هیوادونه د نفوسو د زیاتوالي ښکار کیږي اود نفوسو زیاتوالی د دوی داقتصادي پرمختګ په مخ کې عمده خنډ دی ځکه کوم کوښښونه چه د ملي عاید د زیاتوالي لپاره صورت نیسي هغه د نفوسو د ډېر زیاتوالي په نتېجه کې بې اثره او پراګنده کیږي په داسې حالتونو کې دپس انداز او پانګه اچونې د زیات ډېروالي په منظور باید ملي عاید د نفوسو په نسبت په زیاته اندازه او تېزۍ سره لوړ شي چه دملي عاید په تېزۍ سره زیاتوالي ته د زیات فشار نوم ورکړل شوی دی

# دقوي حرکت تیوري ( Big push theory)

***دنوموړي تیورۍ اساس درې نظریات تشکېلوي***

الف : د اجتماعي املاکو د تقسیم نه قابلیت

ب : د تقاضا د تقسیم نه قابلیت

ج : د پس انداز د تقسیم نه قابلیت

# دقوي حرکت تیوري (Big push theory)

***دنوموړي تیورۍ اساس درې نظریات تشکیلوي***

الف : د اجتماعي املاکو د تقسیم نه قابلیت

د املاکو د تقسیم دنه قابلیت څخه مفهوم دادی چه که د یو صنعت لپاره پوره پانګه موجوده نه وي او د هغې د اعمار نېمايي یا نامکمله پانګه موجوده وي نو د هغې د پکار اچولو په نتیجه کې کار نېمګړی پاته کېږي او دا نیمګړتیا د په کار اچو ل شوي پانګې د مولدیت د له منځه تللو سبب ګرځي او نوموړې پانګه په لازمه اندازه موثره نه تمامیږي .

- مثلاً که یوتعمیر د ۱۰۰ میلیونوپیسو په ارزش تمامیږ ي او د هغې لپاره ۵۰ میلیونه تیار شي نو نیم تعمیر ابادیږي او که دا تعمیر د زیاتې مودې لپاره نامکمل پاته شي نو د مصرف شوي پانګې په کار اچول ګټور نه ثابتیږي .
- په دې لحاظ سره ویلي شو چه اقتصادي املاک د تقسیم قابلیت نه لري .

# دقوي حرکت تیوري ( Big push theory)

***دنوموړي تیورۍ اساس دری نظریات تشکېلوي***

- ب   د تقاضا د تقسیم نه قابلیت :
- د ځینې اشیاو لپاره تقاضا مشترک شکل لري چه د یوه په نه موجویت کې د بل لپاره تقاضا خپل اهمیت له لاسه ورکوي لکه د پترولو او موټر لپاره تقاضا د تقسیم وړ نه ده

.

.

# دقوي حرکت تیوري ( Big push theory)

***دنوموړي تیوری اساس درې نظریات تشکیلوي***

- ج د پس انداز د تقسیم نه قابلیت :

- په پرمختیایي هیوادونو کې اشخاصو پس انداز د پانګې اچونې د اهدافو لپاره کفایت نه کوي او د پس انداز د زیاتوالي په منظور ضرور ده چه حکومتونه مختلف اقدامات وکړي په دې توګه پس انداز هم د تقسیم وړ نه دې

پورته ذکر شوي حقایق د اقتصادي پرمختیا لپاره ضروري دي ولې کافي نشي ګڼل کیدی ددې نه علاوه خارجي پانګه اچونه ، د خارجي ملکونوسره فني تبادله او اجتماعي تغیرات هم په اقتصادي پرمختیا کې مهم رول لوبوي چه دا حقیقت باید د نظره ونه لویږي ځکه چه د نیمګړو فعالیتونو په نتیجه کې اقتصادي پرمختیا صورت نه نیسي .

.